# په افسانه "سوځېدلې بېره" کښې د علامت نګارۍ يوه تنقيدي جائزه

# A Critical Analysis of Symbolism in the Short Story *The Burnt Jujube Tree*

Muhammad Roidar ⋆
Dr.naveed jamal ⋆⋆

**Abstract**

This study explores the definition and conceptual dimensions of symbolism as an important literary device and examines its artistic use in Dr. Muhib Wazir's short story *Swazedley Bera* (The Burnt Jujube Tree). In literature, a symbol is a word, object, or character that conveys meanings beyond its literal sense and represents broader intellectual, emotional, and social realities. Unlike metaphor, which is generally based on resemblance and observation, symbolism is rooted in knowledge, consciousness, and cultural associations, enabling a single image to embody multiple layers of meaning.

The study argues that *Swazedaly Bera* is a highly symbolic narrative in which the "jujube tree" represents the Pashtun homeland and its collective resources, while the character of "Baba" symbolizes a sincere leader concerned with the survival and welfare of his people. The "yellow parasite" signifies destructive internal and external forces that gradually weaken the nation, and the "honey" and "bees" symbolize shared heritage, collective struggle, and common assets. Through these symbols, the story presents themes of national identity, exploitation, disunity, and the need for collective consciousness.

The analysis concludes that Dr. Muhib Wazir employs both individual and conventional symbols with remarkable artistic skill. His symbolic technique enriches the narrative with intellectual depth and semantic multiplicity, allowing the story to communicate complex socio-political realities in a concise yet powerful form. Thus, *Swazedaly Bera* stands as a significant example of modern symbolic fiction in Pashto literature.

**Key words:** Symbolism, Short Story, *Swazedaley Bera*, Pashto Fiction, Pashtun Homeland, Collective Consciousness, Literary Criticism, Pashto Literature

علامت کښې هم لکه د استعارې تکې قرض اخستلے کېږي خو د استعارې په مقابله کښې علامت په پوهه او علمي بنياد وجود مومي. يعنې استعارې دپار مشاهده بنياد ګرځي او د علامت اساس پوهه، عقل او علم وي.

حقيقت کښې لفظ علامت يو اسم دے چې د يوناني فعل نه مشتق دے او معنا ئې اتفاق، مقابله، اتحاد .[1] نشان، نښه، نشانه، درک، پېژندګلي .[2] اشاره ، کنايه،

⋆ Ph.d scholor Pashto department university of Peshawar
⋆⋆ Lecturer, Department of Pashto, University of Malakand.

چهاپ، مهر او لېبل ده .[3] د طبيعي څيزونو د تمثالونو يا خاصيتونو په مدد سره د اخلاقي يا روحاني څيزونو نمائندګي کوونکي لفظونه .[4] او دوه څيزونه يو ځای کول .[5] په اصطلاح کښې يو لفظ د لغوي/حقيقي معنې نه علاوه په بله معنا کښې استعمالول يا د لفظ مجازي معنا کارولو ته علامت وائي.

تر څو پورې چې د علامت ددې تعريف خبره ده چې علامت د ټکيو د مجازي استعمال نوم دے نو ددې تعريف په نتيجه کښې خو بيا ټول ادبي اصطلاحات مونږ د علامت نه نۀ شو جدا کولے .يعنې هره اصطلاح، کنايه، استعاره،مجازمرسل، تمثيل، تلميح او نور به علامتونه ګڼو ولې چې دې ټولو اصطلاحاتو کښې د لفظونو مجازي استعمال کېږي .د علامت دا تعريف پروفيسر انور جمال په خپل کتاب ادبي اصطلاحات کښې دا رنګه کوي.

علامت د جمله فنون يوه اصطلاح ده.چې يو لفظ د خپلې لغوي معنې نه علاوه په بله معنا کښې استعمال شي علامت بللے شي. په لغت کښې د يو ټکي خپله خاص معنا وي يعنې يو ټکے د يوې خاص معنې د پاره وضع کړے شوے وي که چرته مونږ د لفظ د مخصوصې معنې نه علاوه بله معنا مراد واخلو نو علامت وجود مومي . ځکه چې لفظ په دوه صورتونو کښې استعمالېږي يو د حقيقي/لغوي معنيو سره او بل د مجازي يعنې غير حقيقي معنيو سره، او علامت د لفظ مجازي استعمال دے . بلکې مونږ وئيلے شو چې هره استعاره، هره کنايه او هره اصطلاح علامت دے. داسې هر لفظ د څۀ تصور ثابتولو دپاره هم يو علامت دے.څه تعريفونه د شاعرۍ داسې هم شوي دي چې شاعري د علامت ژبه ده .[6] دغه رنګ ډاکټر انيس اشفاق هم د ژوند هره فکري سطح علامت ګڼي او وائي چې د فکر بنيادي کار هم علامت سازي ده.[7]

ددې تعريفونو په لړ کښې که مونږ څومره هم د علامت او استعارې، ايما او رمز ترمينځه کرښه راکاږو ولې بيا به هم بې معنې وي ځکه چې د استعارې، ايما ، رمز او علامت خپلو کښې يوشانتوب موجود دے. يعنې علامت د رمز او ايما يوه لويه حصه ګڼلے شي .او د بره بيان شوو تعريفونو په رڼا کښې خو استعاره خپله هم يو علامت ثابتېږي ځکه چې استعاره هم د خپلې معنې نه ماورا د بل څيز نشاندهي کوي.

بلکې ابو الاعجاز حفيظ صديقي خو علامت هم استعاره ګڼي او وائي چې علامت

کښې يو څيز يو کردار يا يوه واقعه بطور د مجاز ماورا د ځان نه علاوه د بل څيز نمائندګي کوي او مونږ ترې هغه استعارې مراد اخلو د کومو چې شاعر د خپل بنيادي تصوراتو د پاره استعمال کوي.[8] د علامت بل تعريف د اردو ژبې محقيق اشتياق احمد دا رنګه کوي او وائي چې علامت په خپل ادبي استعمال کښې د نمائندګۍ يو جدا انداز/طرز لري او يوه صنعتي معنوي اصطلاح ګڼلے شي چې پکښې تشبيهـ، استعاره، تجسيم، تمثيل او نور د اظهار يو انداز پېش کوي او په دې کښې چې څه هم وئيلے شي د هغې نه سېوا معنې ترې مراد اخستلے کېږي . علامت د تعلق، تلازمې، روايت يا د غېر ارادي مشابهت په شکل کښې د بل څيز نمائندګي يا هغه طرف ته اشاره کوي . بلکې مونږ وئيلے شو چې علامت د استعارو د مجموعو په ذريعه د ځانګړو او ذاتي محسوساتو د پاره د خيالاتو يوه پيچيده تلازمه ده . او په ټولو علومو کښې د موجود استعمال مشتريک عنصر او د يو څيز متبادل او د بل څيز نمائندګي کونکے دے.[9]

په علامتي نظام کښې د علامت او استعارې خپلو کښې دومره ټېنګه رشته ده چې د يو ذکر کولو سره د بل ذکر کولو اړخ ته د انسان خيال بيائي . بلکې استعاره او علامت خپلو کښې دومره اشتراکيت لري چې نۀ يواځې د دوي ترمينځ معنوي ربط موجود دے بلکې د علامت او استعارې په مينځ کښې دومره فرق دے څومره چې د اشارې او سګنل يا د تمثال او تمثيل دے لکه د نوعيت له رويه سګنل جامد او غېر متحرک وي او اشاره د معنوي اکائۍ باوجود جامده نۀ وي . بلکې ډاکټر محمد علي صديقي خو اشاره د علامت د رغېدو پړوۍ ګڼي او وائي چې د اشارې د کثير استعمال نه علامت وجود مومي .[10] هم دغه وجه ده چې مغرب کښې د علامت دپاره د استعارې نوم کارولے کېږي . په دې حقله پروفيسر فضل مير خټک په خپل کتاب "فضليات" کښې د علامت تعريف دا رنګه رانقل کړے دے:

> " د يو نشان يا علامت د هغه شي سره چې دے يې نمائندګي کوي هيڅ حقيقي تعلق نه وي .لکه په خبرو کښې چې کوم الفظ وئيل شي دا زمونږ د ذهني حالتونو نمائندګي کوي . د مغرب او مشريق په علامت کښې فرق دے . مغرب د علامت نه استعاره ساځوي او د استعارې په ځاے يې راوړي ولې دلته علامت، علامت وي استعاره نۀ شي کېدے."[11]

ولې دلته ددې خبرې وضاحت ضروري د ے چې که علامت، استعاره، رمز، ایما او نور خپلو کښې معنوي ربط لري خو بیا هم ځانله ځانله وجود یې مسلمه خبره ده مونږ یې په یوه معنا او یوه اصطلاح کښې نۀ شو اخستلے۔ که فرق یې خپلو کښې معمولي یا په تکنیکي بنیاد ولې نه وي خو د بیلتون نه یې انکار کول ممکن نۀ دي مونږ به یې په بېلو بېلو نـامو او اصطلاحاتو باندې پېژنو ځکه چې د علامت او نورو اصطلاحاتو او په خصوصي توګه د استعارې ترمینځ واضح فرق د علامت علمي ، عقلي استعمال او د استعارې په څېر د نورو اصطلاحاتو د مشاهدې په بنیاد استعمال د ے۔ دغه د علامت او نورو توکو ترمینځه بېلګوت ډاکټرعمرفاروق داسې واضح کړے د ے۔

پـه مشـرق او مغـرب دواړو کښـې څـه مفسـرینو علامت د نشان او آیت مترادف ګرځولے یا یې د استعارې وسیع ترین صورت ګڼلے د ے۔ او کله کله د تمثیل سره یې هم د علامت مماثلت ظاهر کړے د ے۔ له دې کبله د تخلیقي ژبې نور وظائف چې دي لکه تشبیهـ، استعاره، پیکر او نورو سره د علامت فرق او امتیاز واضح کول ضروري دي۔ ترڅو پورې چې د آیت، نشان او تمثیل تعلق د ے نو دا د ژبې خصائص دي کوم چې په خپل ځان کښې د استعارې پشان خاصیتونه لري۔ دغه شان تشبیهـ د دوؤ څیزونو په موازنې او وضاحت باندې قائمه وي او استعاره په غېر واضح موازنې باندې قائمه وي۔ په استعاره کښې د وجه اشتراک وضاحت نۀ کېږي او د دوؤ څیزونو د احساس شعور متلزم وي۔ ولې علامت نۀ په پوره توګه شعوري کوشش وي او نۀ لاشعوري۔ په تشبیهـ او استعاره کښې ذهن د غېر معروف نه معروف ته منتقل کېږي او په علامت کښې د معروف نه غېر معروف ته انتقال کوي۔ داسې پېکر دا صلاحیت لري چې یو یا د یو نه سېوا حواس متحرک کوي خو بیا هم په مشاهده باندې مبني وي او علامت تر ډېر حده په علم باندې قائم وي.[12]

دغه رنګ د ادب څۀ ناقدین علامت او نشان هم هَم معنې ګڼي خو د دواړو ترمینځ څه خاصیتونه داسې دي چې یو بل نه یې جدا کوي۔ په دې حواله ډاکټر وزیراغا د علامت او نشان بېلتون داسې کوي او لیکي چې کله یو ټکے یا یو څیز خپله مقرر شوې معنا ذهن ته راوړي نو نشان بللے شي علامت نۀ۔ د مثال په توګه کله چې هارن اووهلے شي نو د انسان خیال ګاډي طرف ته ځي۔ دلته هارن د ګاډي نشان ګڼلے شي نۀ چې مونږ

يې علامت وګڼو۔ علامت د څه مقرر شوې معنې نه علاوه د امکاناتو اړخ ته د يوې اشارې نوم دے ۔ بلکې د خپل ذات د قېدخانو او د لفظونو د څرمنو نه بهر کېدل او د امکاناتو او وجود د فاصلو تعين کول د علامت تر ټولو لوے کار دے۔[13]

په علامت کښې د تخيلاتي نظريې استعمال کېږي چې د ټکيو معنې د قاري تر وړاندې په پټ انداز کښې ايخودے شي او دا اختيار قارې ته سپاري چې هغه د اديب پېش کړے شوے تخيل په کوم انداز کښې قبلوي ۔ ځکه چې تخليق کار څه څيز هم تخليق کوي نو هغې کښې د تخيل دنيا شاملوي او کوشش کوي چې خپل طرز اظهار د براه راست نه علاوه د بلاواسطه له لارې وکړي او د قاري ذهن متحرک وساتي چې قاري پخپله د فنکار د تخيل نه خبر شي۔ که چرته قاري په پوره توګه د تخليق کار د تخيل نه په پوهېدلو کښې کامياب شي نو دا به د تخليق کار د کاميابۍ او ځانګړتيا نخښه وي ۔ ځکه چې د دې صنعتونو د استعمال مقصد هم که يو طرف ته د قاري دلچسپي خپل تخليق ته راګرځول دي ولې بل طرف ته يې په قاري خپل خيالات منل او د هغې سره د متفق کېدلو يوه لويه هڅه هم وي۔

د علامت په حقله د دې بحث په ترڅ کښې مونږ د علامت اصطلاحي تعريف هم په دې ټکيو کښې کولے شو چې يو ټکے د خپلې حقيقي معنو نه علاوه په مجازي معنو کښې کارول يا داسې وئيلے شو چې د لفظونو د معنو مفهوم ته علامت وائي ۔ يعنې علامت د څه څيز، سړي، فکر، خيال، يا د يو عمل د نعم البدل نوم دے ۔ولې د څه څيز چې هم نمائندګي کوي د هغه سره يې براهِ راست هيڅ قسمه تعلق نۀ وي۔ خو دا خبره به په نظر کښې ساتل ضروري وي چې د علامت رغېدل په عقلي او علمي بنياد باندې کېږي د استعارې غوندې يې مشاهده بنياد نۀ ګرځي او نۀ علامت د اشارې غوندې د يوې مخصوصې معنې د لاندې ژوند کوي بلکې په خپل ځان کښې د معنيو يو لوئے جهان پټ ساتي ۔ هم د دغه پټو او مبهمو معنو کمال دا دے چې لوستونکي او اورېدونکي د تخليق کار فکر اړخ ته د رسولو دپاره متحرک ساتي۔ علامت په حقيقيت کښې د قاري د ذهانت کسوټي ده او دا کسوټي يو اځې د ټکيو محتاجه نۀ وي بلکې د روايت، سماج، تهذيب او د فن کار د ذهني رويو، خوښې ناخوښې او د هغه فکري وسعت هم په نظر کښې ساتي۔ يو قاري چې څومره هم د خپل ماحول او چاپېرچل د څيزونو سره اشنا او

باخبره وي هومره به په لفظونو کښې د پټ تخيل د معنو او مضامينو تعين کولے شي۔

- **په افسانه "سوځېدلې بېره " کښې علامتي رنګ**:

ډاکټر محب وزير ما د يو ښۀ استاذ، محقيق او نقاد په حېث پېژندو او د شاعرۍ نه يې هم خبر ووم چې ښکلے شعر ليکي ـ موضوعات يې هم د شعر ښکلي او نوي وي ـ خو کله کله به يې چې چرته د شعر په حواله خبره کول /ليکل نو ما به ترې هم دغه يو سبق زدۀ کوو چې د ډاکټر صېب تنقيدي نظر څومره پراخه دے ـ ورې ورې نقطې په ټکيو کښې لټوي او بيا د ټکيو ددې وړو وړو نقطو په تناظر کښې د ټکيو معنوي اړخونه ټاکي ـ دا سلسله يې داسې روانه کړې وه چې کله کله به يې د چا شاعر، د غزل څو شعرونه خپاره کړل او په فني حواله به يې پرې بحث کولو ـ د قافيو د سم والي او کم والي په حقله به يې پکښې خوبۍ او خامۍ ښئيلې ـ ولې زۀ يې بېخي د افسانه نګارۍ نه ناخبره ووم۔

ډېره موده مخکښې يې ماته يوه افسانه رالېږلې وه چې د " شش چپ" په نوم وه ـ په وضاحت کښې ورسره دا ليک ؤ چې دا افسانه ډاکټر صېب اولس کاله وړاندې ليکلې ده۔ زما هم دغه ياد وۀ نو ما ورته يوه ورځ خپله ماته ګوډه افسانه ولېږل چې راته يې سمه کړه نو ډاکټر صېب وئيل چې زۀ خو افسانه نګار نۀ يم ـ نو ما ورته دا افسانه (شش چپ) ياده کړل چې دا تاسو د نن نه اولس کله وړاندې ليکلې ده۔ خو ډاکټر صېب بيا هم خبره په خندا واړول چې زۀ افسانه نګار نۀ يم۔

موده پس بيا ډاکټر صېب د افسانو يوه لړۍ په فېس بک خپرول پېل کړل چې هره ورځ يا په دوېمه ورځ به يې يوه افسانه ضرور خپرول۔ دا افسانې به چې ما ولوستلې نو يو نوے رنګ به راته پکښې ښکاره شو۔ يو بېخي د نوي کېفيت سره به يې مخ کولم ـ اوس دا نۀ يم خبر چې زما د افسانوي ادب سره دومره ډېر اشناتوب نۀ وۀ چې ما دپاره د ډاکټر محب وزير د افسانو دا طرز يو نوے څيز وۀ يا حقيقت کښې دا د ډاکټر صېب انفرادي رنګ وۀ۔ البته هر څه چې وۀ خو ما دپاره بېخي يوه نوې خبره وه۔

خو لږې ورځې نۀ وې تېرې چې ډاکټر صېب خلقو د يو افسا نه نګار په حېث هم وپېژندو ـ چې د "سوځېدلې بېره" په نوم يې د افسانو مجموعه مخې ته راغله[14] ـ دې کتاب کښې چې څومره هم افسانې دي د ډېرو انداز علامتي دے۔ هره افسانه کښې يې

کردارونه په حساب څو نومونه وي. دغه نومونه اکثر علامتي وي. لکه د کتاب په دې نوم " سوځېدلې ښېره" پکښې هم يوه افسانه ده.[15] دې افسانه کښې "بابا" يو کردار دے چې د ښېرې لاندې نښې پخوي. د نښو بټۍ يې لګولے وي او د ښېرې د افاديت نه هم خبر وي. قدر قيمت يې هم پېژني . له دې هم خبر وي چې ددې ښېرې حفاظت زمونږ دپاره څومره اغېزمن دے. اوس دا ښېره هغه ښېره نۀ ده کومه چې د يوې ونې په شکل کښې مونږ ته ښکاري او دانو/مېوو ته يې زمونږ خولې د اوبو نه ډکې کېږي .بلکې دا ښېره ددې پښتون وطن د وسائلو نه ماله مال او ډکه خزانه ده. خو يواځې يو کردار"بابا" ددې د حفاظت کولو نعرې وهي - چې ددې ښېرې خيال کوئ - حفاظت يې کوئ - دې کښې ستاسو د ژوند بقاء ده.خو د خلقو پام دې اړخ ته نۀ راګرځي - تردې چې يوه ورځ يوه جوړه (د ښځې او سړي) د ونې د سيورې لاندې کينې د ونې ګور سيورے ووينې ، دننه پکښې د مچو جوړ کړے شوے ګبين هم ورته ښکاره شي .د ښېرې په خوا کښې د روانو اوبو د چپو نه راختونکي سازونه يې هم ترغوږو کېږي .د مرغو د اوازونو نه جوړې نغمې يې هم په زړۀ اري راکاږي. دا نغمې، سندرې که څومره هم خوږې وي .خو دا ددې جوړې په زړۀ لکه د غنو راښکل دي.

اوس دلته دا خبره دومره مهمه نۀ ده چې دا جوړه ددې ښېرې د اهميت نه څومره او ولې خبر ده . مهمه خبره دا ده چې ددې ځاے خلق /پښتانه ددې ښېرې اهميت ولې نۀ پېژني چې ټول عمر ددې ښېرې سيوري ته ژوند کوي.

دا هغه خامۍ دې چې د پښتون قام د سر سيوري ورکوي - لکه دې افسانه کښې چې دغه جوړه د ښېرې سر ته يوه "زيړه ځبله" وروغورځوي او تر نيمې پورې يې وچه کړي خو بيا هم ددې ښېرې د سيوري لاندې ژوند کونکي خلق ددې غم نۀ کوي - يو بابا وي چې هغه ددې سيوري فکر کوي ددې خيال ساتي - خلقو ته چغې وهي چې خپل سيوے مو ورکېږي ددې خيال وساتئ خو خلق د بابا په خبره غوږ، ښکر نۀ ږقوي.او بابا مدام په دې يوه نعره سر وي چې :

" ښېرې !!!!!! ستا مالک نشته مالک"[16]

هم دغه وجه وي چې لږې ورځې پس دا ښېره تر نيمې وچه شوې وي - بيا يوه بله تنکۍ جوړه راشي. د يخنۍ موسم وي . او د ښېرې لاندې د ښېرې وچو لرګو او پاڼو نه

اور بل کړي ـ ددې جوړې سره سره نور خلق هم د اور نه چاپېره تاؤ ناست ځان اور ته ګرموي ـ دې کښې د باد يوه لويه څپه د اور سکروټې د بېړې ځانګو ته ورسوي ـ اور په تيزۍ سره په بېړه کښې خپور شي ـ بيا هم دغه يو بابا نعرې وهي چې د "بېړې مالکانو رامنډه کړئ ـ"

او خپله د سيند په لور منډه کړي ـ خپل غټ څادر په اوبو کښې ډوب کړي او د بېړې د تنې نه يې تاؤ کړي ـ ولې دا ځل د بابا چغه نور خلق هم واوري او خپل پټکي، څادرې او څه خلق پکښې خپل دستارونه هم لامده کړي او په بېړه د لګېدلې اور په لمبو يې ورګزار کړي چې اور پرې مړ کړي ـ دغه اور خو مړ شي خو بېړه تر نيمې سوځېدلې وي ـ ولې دا اور که هر څنګه وي خو يوه ګټه ضرور وکړي چې هغه ټولې زيړې ځېلې هم وسېزي کومو چې بېړه په خپله ولقه کښې اخستې وي او وچوي يې ـ اوس بېړه که نيمه هم ده خو د اور او زيړو ځېلو نه پاکه شوې ـ اوس بابا دا اوز کوي چې :

"د بېړې مالکانو! خپله نيمه سوځېدلې بېړه وساتئ."[17]

دلته تنکۍ جوړه په معنا د هغه خلقو علامت دے کوم چې ددې ځائے ذاتي اوسېدونکي نۀ وي ـ ولې چې د غرونو په خېټه کښې رالوئے شوي خلق سخت او کلک وي ـ پوهانو خپلو تحقيقونو کښې دا خبرې رابنکاره کړې هم دي چې څومره سمې او هوارو کښې ژوند وي ـ هومره ددغه ژوند کونکيو خلقو په ژبه او وجودونو کښې نرم والے پېدا کېږي ـ له دې نه مونږ دا معنې اخذ کولے شو چې دا جوړه (سړے او ښځه) د هوارو سيمو نه راغلي هغه خلق وو کوم چې يا د سېل ګرۍ په غرض راغلي او يا خو يې نور څۀ مقاصد وو ـ کۀ چرته سېلګرې وي نو دا بيا ددې خبرې علامت دے چې پښتنه سيمه خدائے څومره ښکلې پېدا کړې ده ـ خو دې نۀ سېوا يوه بله د خوښې خبره او ښکلے علامت دا هم دے چې پښتانه څومره امن خوښونکي دي چې يواځې يوه جوړه (ښځۀ او خاوند) بې د څۀ ويرې او ترحې دلته راځي ـ دا ويره ورسره نۀ وي چې څوک مو نقصان هم کولے شي ـ

"د تنکۍ جوړې" سره د ترلو شوو دغه علامتي معنيو (ښکلا، امن) نه پس که په مجموعي ډول مونږ دې افسانې ته فکر وکړو نو په فکري حواله خو ښکاره خبره ده چې مونږ ته د افسانه نګار د خپلې خاورې سره، د خپل پښتون قام سره مينه او ترون په ګوته

کوي۔خو دلته زمونږ موضوع دې افسانه کښې د علامتونو مطالعه کول دي ۔چې مونږ ته پکښې ورومبے خو دغه ټوله قيصه علامتي رنګ ځرګندوي۔ له کومې په نتيجه چې مونږ پوهېږو چې دا قيصه دغه د بېرې لاندې د بابا ناسته او د بټ نېنې پخول نۀ دي کوم چې مونږ ته ښکاري بلکې ددې په شا ددې ټول پښتون وطن قيصه پټه ده۔

دوېم پکښې ددې افسانې مهم کردار "بابا" په معنا ددې پښتون قام د رهبر په شکل کښې ښودلے شوے دے۔ دا بابا يو علامت دے د هغه چا دپاره د چا په شخصيت کښې چې افسانه نګار ته ددې پښتون قام خواه خوږې ښکاري ۔ دا هغه بابا دے ځوک چې افسانه نګار ددې خاورې حقيقي اتل ګڼي۔ دا بابا هغه ځوک دے کوم چې ددې خاورې په خېټه کښې د مودو راسې ژوند کوي ۔ددې خاورې د قدر و قيمت نه خبر دے ۔ ددې خاورې په بربادۍ يې زړۀ چوي۔خپل ژوند يې ددې خاورې په خاطر لکه د نېنو په دغه بټ کښې نيني نيني کړے دے ۔دغه تودوخو ،لوګو ته يې ځان نيولے خو کوشش يې کړے چې ددې بېرې (خاورې) هره پاڼه د وخت د دود، تريخ او سپېره باد ځخه وساتي ۔ اوس دا اتل ځوک دے دا هغه ځوک پېژندے شي ځوک چې د افسانه نګار شخصيت پېژني د هغه د ژوند د نورو اړخونو سره سره د هغه د سياسي او نظرياتي اړخ هم څۀ نه څۀ مطالعه لري۔ دلته زۀ دا فېصله په لوستونکيو پرېږدم۔

دريم دې افسانه کښې د يوې بلې جوړې (ښځه او سړے) کردار دے کومه جوړۀ چې دې افسانه کښې په ورومبي سرکښې ذکر شوې د هغه دوېمې تنکۍ جوړې نه د کومې جوړې چې ما وړاندې وضاحت وکړو۔ ددې جوړې مې هم وړاندې لږ ذکر کړے چې دا جوړه اصل کښې هغه خلق دے ځوک چې ددې پښتون وطن بد خواه دي ۔ په دې خاوره يې امن نۀ شي پېرزو۔ځکه دلته بد امني، کرکه ، نفاق او هغه ټولې بدې رويې ډېروي/خوروي کومې چې د پښتنو په بده تمامېږي ۔اوس دا خلق ځوک دي او د کوم ځائے نه راغلي۔ددې وضاحت په دې افسانه کښې نشته ۔کوم چې ددې علامت معنوي اړخ نور هم پراخه کوي۔ ولې چې داډول علامتونه نتېجې د لوستونکيو ذهني استعداد ته سپاري۔هم دا د علامت نګارۍ فن کاري ده۔چې معنې پټې په دې بنياد وساتي چې هر ځوک ترې د خپلې خوښې معنې اخذ کړي۔

دا رنګ د اجتماعي علامتونو په نيز په انفرادي علامتونو کښې ډېر ليدے شي ۔

ممکن ده چې دا علامتونه موده پس اجتماعي علامتونه هم ګرځي چې په دغه معنيو کښې يې بيا نو خلق هم وکاروي خو اوس چې يې مونږ په کومو معنيو کښې اخلو هغه د انفرادي علامت صورت د ے ځکه ترې معنې د هر لوستونکي د خوښې اخذ کېد ے شي ـ لکه مونږ ترې يوه معنا دلته په وړومبي وار د پيرنګ راتګ هم اخستے شو ـ چې دغه زمانه ډېر خلق تر ۱۶۰۰ء پورې غزوي چې دې وخت کښې پيرنګ دلته د راتګ يوه منصوبه جوړه کړې وه ـ[18] ولې باقاعده توګه چې د مغلو د حکمرانۍ تخته نسکوره شوې ده هغه ۱۸۵۸ء زمانه ده چې د مغل بادشاه سراج الدين بهادر شاه دوم د دورِ حکومت اختتام کېږي ـ[19] خو مونږ دا د برطانيې دورِ حکومت په دوه برخو کښې ويشلے شو يوه برخهٔ د ۱۷۵۷ء نه واخله تر ۱۸۵۸ء پورې کومه چې د ايسټ انډيا کمپنۍ د حکومت په شکل کښې وه ـ او دوېمه برخه يې د ۱۸۵۸ء نه تر ۱۹۴۷ء پورې حسابولے شو چې دې وخته پورې برطانيې دلته حکومت کړے د ےـ[20]

اوس دا جوړه هر څوک د خپلې پوهې، مشاهدې په رڼا کښې پېژند ے شي چې دلته ترې څوک مراد کوي ولې چې دا د علامت نګارۍ کمال وي چې ځان کښې يو لوئے معنوي جهان لري ځکه دلته هم دا فېصله په لوستونکيو پرېږدو ـ خو ددې جوړې د کردار دپاره چې د کوم ټکي استعمال په علامتي توګه شوے هغه ټکے د افسانه نګار د پراخې مشاهدې هم يو لوئے دليل د ے ـ دغه ټکے "زيړه ځېله" ده ـ کومه زيړه ځېله چې دې جوړې د ببرې سر ته وراچولې وي ـ يعنې دا "زيړه ځېله" مونږ ته د دغې جوړې د هغه ټولو کرکجنو رويو څرګندونه کوي کومې رويې چې ددې جوړې په وجودونو کښې پټې وي ـ

"زيړه ځېله" يو داسې بوټے د ے چې د نورو ونو بوټو په څېر په خاوره کښې نهٔ کېږي ـ بلکې د نورو ونو بوټو په سر پروت وي ـ دغه ونې بوټي يې خوراک وي ـ د هغوي په سر ژوند ے وي ـ څومره چې خورېږي دومره دغه ونې بوټې زيړېږي ، وچېږي او دا پرې لا څربېږي ـ

اوس دلته دا علامت څومره په ښکلي ډول په څومره ښکلي ځائے کښې افسانه نګار کارولے د ے ـ چې ځان کښې څومره ډېرې معنې لري ـ يوه زيړه ځېله ده مونږ يې په څومره ډېرو معنيو کښې اخلو ـ نفرت يې ګڼو ، بد امني يې ګڼو ، نفاق يې ګڼو ، بلکې د پښتون وطن په وسائلو يې قبضه هم ګڼلے شو او داسې نورې يو شمېر معنې ترې هم اخذ کېد ے

شي۔ یقیناً چې دا د علامت نګارۍ یو غوره مثال دے چې په یو ټکي کښې یې هغه ټولې معنې راټولې کړې دي کومې چې افسانه نګار بیانول غواړي ۔ځکه خو مونږ علامت د کفایت لفظۍ یوه لویه وسیله ګڼو ۔ که چرته د علامت نه بغېر دومره ډېرې معنې په یوه افسانه، شعر یا یو بل تخلیق کښې ځایولے کېدے نو نهٔ به یې یوازې په دغه تخلیق کښې طوالت پېدا کولو بلکې دغه طوالت د بې خوندۍ سوب هم ګرځېدے شو ۔ځکه خو مونږ وایو چې په لږو ټکیو کښې ډېرې معنې ځایول د تخلیق کار د فن کارۍ کمال وي او دا کمال ددې افسانې د خالق زدهٔ دے ۔ځکه خو یې دې تخلیق کښې مونږ هغه ټولې خوبۍ وینو کومې چې د یو ښهٔ علامت نخښې وي ۔ او بیا ددې علامتې ژبې په بدل لوستونکیو ته د افسانې دننه ذکر شوي منظرونه لکه د ټي وي په پرده منعکس کول مونږ ته د تخلیقکار د فن یو بل لوئے اومهم دلیل هم پېش کوي۔ لکه هغه منظر یې مونږ ته څومره په ښکلې ډول تصویر کړے دے کوم وخت چې دغه جوړه "زېړه ځېله" د ببېرې سر ته وروغورځوي لکه لاندې یې دغه څو جملې داسې رانقل کولے شو:

"اخر سړي د ښځې په لور مخ وروا ړولو او غوږ ته او غوږ ته یې ورلهٔ خلهٔ نزدې کړه او ښځې په جواب کښې ورته په زوره زوره سر ورقلو ۔ سړی پاځېدو ، د خپل اوږد کوټ ګس جېب ته یې لاس کړو او بیا یې هغه لاس د ببېرې په یوه څانګه داسې راتېر کړو لکه یو څوک یې د خپلې چړلاسې ښایسته اسپې په زلفو راکاږي۔ سره سپینه ښځه ورسره هم شاته ودرېده او د سړي په اوږه یې خپل ښے لاس کښېښودهٔ ، لکه ورته وایې چې تر نیمایي مورچله زهٔ درسره یمه او بیا سړي هم هغه لاس پورته کړو او یو څهٔ یې د ببېرې بره سر ته ورګزار کړل خو هیچا هم څهٔ وهٔ نهٔ لیدل ۔ البته د لاس د غورزولو نه یې دومره اندازه بېخې وهٔ شوه چې هر څهٔ وو خو ورګزار یې کړل ۔ سړي ښځې ته مخ راواړولو او یوه فاتحانه مسکا د دواړو په شونډو خوره شوه ۔ ناستو ولاړو ټولو خلقو د سړي او ښځې د ببېرې سره د مینې ډکې ننداره څخه خوند اخستلو ۔"[21]

دغه رنګ دې افسانه کښې یو علامت د "د لاروو او اوښانو " هم کارولے شوے دے ۔ لکه دغه ذکر افسانه نګار داسې کړے:

"لاروو به هم دلته دمې کولې. د لړې لړې تلونکيو قافلو به هم دلته اړول . د خوند خبره دا وه دا ببره ببخې ډېره خوږه وه . غتې غتغې سرې ببرې يې کولې چې د لارو د لوږې يو قدرتي بندوبست وۀ . بلکې لا زياته دخوند خبره دا وه چې د قافلو سره د اوښانو خوراک هم د ببرې غتې تکې شنې پاڼې وې او بله د خوند خبره دا وه چې ببره ګڼۀ او ګوره زياته وه چې ببخې به پکښې د نمر تادوخۀ نۀ راتېرېدله، ببرې ازغې نۀ لرل . لاروو به يې په اسانه ببرې خوړلې شوې او اوښانو به يې څانګې په خوند او خوند په يو شخوند خوړلې شوې."[22]

دلته دا لاروي د هغه ټولو خلقو د پاره علامت دے کومو خلقو چې په دې خاوره يلغرونه/لښکرونه کړي او خپلې جولۍ يې له دې سرو، سپينو، (وسائلو) نه ډکې کړي او تېر شوي دي. ( دا بيا ځانله يو لوئے تاريخ دے چې کوم کوم خلق دلته قابض پاتې شوي) . او اوښان مونږ په معنا د هغه خلقو اخستے شو کوم چې دغه لښکرونو کښې د لاندې طبقې يا د کمې عهدې/حصيت خلق وو .لکه څه رنګ چې فوځونو کښې د سپاهي نه واخله تر جرنېل پورې عهدې وي . بيا ظاهره خبره وي چې د لوئې عهدې خلق ښۀ څيزونه ځانله بېلوي او لاندې خلق يې په مثال د اوښانو په پاڼو شخوند وهي . اوس دا څومره ځانګړې او نوي علامتونه دي چې تر اوسه پورې په دې معنيو کښې يې چا هم استعمال نۀ دے کړے.

بل دې افسانه کښې د "مچو ګبين" په ببره کښې د هغه ټولو خوږو / وسائلو د پاره علامت دے کوم چې ددې پښتنو شريک ميراث دے . (ددې وسائلو په حقله د مولانه خانزېب کتاب "شتمنه پښتونخوا " [23] په څېر نورو کتابونو کښې هم تفصيلي بحث شوے دے چې استفاده ترې کېدے شي) . دا ګبين لکه د مچو په شريکه د پښتنو مشرانو په خپل قامي وحدت رغ کړے دے . هر پښتون مشر د خپلو وينو برخې دې ګبين کښې شريکې کړې دي. د وخت هر جابر، استعمار ته نېغ ودرېدلے دے ـ مغل ته ولاړ دے. پيرنګ ته ډال شوے دے. سرونه يې بائيللي دي. بچي يې يتيمان کړي دي . خو ددې پښتون وطن د ګټې غم يې کړے دے. اوس دا ګټه ولې د پښتنو تر لاسه کېږي

نۀ؟ او تر دې وخته يې ولې ترلاسه نۀ شوه ـ ؟ دا ځانله يو لوئې بحث دے ـ خو دومره ده چې دې وخت کښې لويه وجه پښتنو کښې ددې خپلو شريکو اثاثو نه ناخبرتيا ده ـ د پښتنو په خپل مېنځ کښې په هغه څيزونو هم بې اتفاقي ده کوم څيزونه چې لکه د ګبين د ټولو مچو (پښتنو) شريک جاګير دے ـ دلته د ښېرې په سر کښې دا ګبين هم د زيړې ځېلې لاندې راغلے دے ـ اوس پښتانه له دې څۀ خبر دي چې دا زيړه ځېله څومره خوربدے شي او کوم کوم څۀ يې په ولقه کښې راتلے شي ـ

د زيړې ځېلې او ګبين نه پس دلته نور څو علامتونه هم کارولے شوي دي چې مونږ ته د افسانه نګار دغه هرڅه راوړاندې کوي کوم چې هغه مونږ ته ښکاره کول غواړي لکه څو جملې يې دې افسانه کښې دا ډول دي:

"په موسم کښې به چې ښېرې بور وۀ نيوۀ او د وړو وړو زيړو غوټيو په شان به وۀ غوړېدۀ نو لکه د وړو مچيو ته چا خبر رسولے وي ـ د خوا و شا ټولې مچۍ به راغلې او د ښېرې په هره څانګه پورې به پنډې شوې ، يو خوا به يې د ښېرې بور او د سيند د يخو رڼو اوبو څخه ګبينونه جوړول او بل خوا به يې خوږه خوږه موسيقي هم غږوله ، عجيبه دا چې د مچو ګبېنونه د ښېرې په ګڼوالي او ګوروالي کښې داسې خوندي او محفوظه وو چې خلقو يې د موسيقي او زمزمو څخه خوندونه خو اخستل ولې د ګبينونو د تروړلو چا هڅه و سوچ نۀ کولو ـ په ماښامي کښې د چرچڼو شور پکښې بيا يوه بله نندارہ وړاندې کوله "ـ[24]

دلته د مچو د ګبينونو سره سره د چرچڼو شور هم ددې خبرې علامت دے چې دلته ونې بوټي په ګڼ تعداد کښې دي ـ يا يو رنګه ځنګلونه ترې جوړ دي ـ ولې چې مچۍ د ګڼو ونو مېنځ کښې په ونه پورې ګبين جوړوي ـ هغه ځائے کښې ژوند کوي کوم ځاے ته چې د انسان تګ کم وي ـ او مرغان /چرچڼې هم هلته وي کوم ځائے کښې چې ونې ډېرې وي ـ يعنې دلته د افسانه نګار د بيان بله مدعا په علامتي انداز کښې دا هم ده چې مونږ ددې وطن د ځنګلونو د افاديت نه هم خبر کړي کوم چې د پښتون قام يوه لويه اثاثه ده ـ خو پښتانه له دې قيمتي اثاثو څخه بې خبره دي ـ ورځ تر ورځ ځنګلونه وهلے کېږي ـ ونې بوټي کمېږي ـ خو له اهميته يې بې خبره پښتانه د څو روپو په لالچ د خپل مستقبل

سودا په ډېر کام قېمت کوي. لۀ څه وجې چې بیا موسمي تبدیلۍ راشي. په سوونو خلق د بې موسمه باران، سېلاب په شکل کښې ژوند وبیلي. شینکي ختم شي. ښکلا ورکه شي. بیا خوداره پښتانه د نورو خلقو مالي مرستو ته په قطارونو کښې ولاړ وي. د وخت ډوډۍ او سینې پټولو دپاره لاسونه لاندې نیولي ولاړ، او روان وي.

دې سره سره افسانه نګار په دې خاوره د بهېدونکیو سیندونو اهمیت هم په نظر کښې دے. ځکه خو موصوف دغه ښېره د سیند په غاړه ودرولې او داسې یې تصویر کړې ده چې مونږ ته یې پکښې د تمامې پښتونخوا سیاسي،قامي، ژوند ځلولے دے. دا تصویر نۀ ډېر تت دے ګنې چې څوک یې نۀ پېژني ولې دومره ښکاره هم نۀ دے چې غبر غماز پرې پوهه شي او د ورانولو کوشش یې وکړي. دې تصویر کښې رنګونه هم شته، چر چنې پکښې هم الوځي، سیندونه پکښې هم بهېږي. د وړو مچو ګبېنونه پکښې هم شته. ولې دې تصویر کښې د اور لمبې په یو څو لمدو څادرونو ،پټکیو،پګړو کښې هم پټې او سرې پرتې دي. اوس دا لمبې څنګ بلې شي او دا بیا مړې او غلې څنګه شي. ددې شاته یوه لویه قیصه زمونږ له وړاندې تېره شوه.

ولې چې په دې لمبو مړو کولو کښې هر چا خپله برخه اچولې وي. هغه که ملا وي د کوم دپاره چې دلته د پټکي علامت کارولے شوے. او هغه که خان ملک او یو عام وګړے وي. د کومو دپاره چې پګړۍ او څادرونه علامتونه راوړلے شوي.

دې لمبو کۀ څو هم د ښېرې نیمه برخه سېځلې ده خو دومره نېکي یې ضرور کړې چې ښېره یې د "زیړې ځبلې" نه خلاصه کړې. دې لمبو بله نېکي دا هم کړې چې دغه عام اولس، ملا او ملک یې قامي وحدت ته رابللے دے. په دې یې پوهه کړے چې ددې ښېرې زیان ستاسو شریک دے او ددې ګټه هم ستاسو شریکه ده.

دا هر څۀ چې دې تصویر کښې لیک دي. په یو داسې علامتي شکل کښې دي چې ښځې لوستونکي او کتونکي د ځان سره روان ساتي. نۀ یې علامتي انداز دومره مبهم دے چې معنې یې ښځې پټې کړي د کوم له وجې چې کله کله د لوستونکي تجسس ماتېږي او نۀ یې استعمال داسې ساده شوے چې ګنې ښځې هسې قصه ښکاري. بلکې په معتدل انداز کښې یې ورله انداز او ژبه داسې خپله کړې چې د انسان لوستلو ته تنده لا زیاتوي.

ولې دلته چې ځومره هم علامتونه کارولے شوي دي هغې کښې زيات د تخليقکار انفرادي علامتونه دي کوم چې موصوف خپل رغ کړي . لکه "ببره"، "بابا"، "جوړۀ"، "تنکۍ جوړۀ"، "ګبين"، "مچۍ"، "لاروي" او "زيړه ځبله" يو اځې تخليقکار په دې معنيو کښې کارولي دي. زما د مطالعې تر مخه بل چا ددې ټکيو په دې معنيو کښې استعمال نۀ دے کړے.

دې انفرادي علامتونو کښې ځۀ علامتونه داسې هم دي چې مونږ ترې هغه معنوي مقصد اخذ کوو د کومو چې افسانه نګار مونږ ته د رارسولو کوشش کوي. ولې په پوره ډول دغه ټکي مونږ د علامت په هغه معنيو کښې نۀ شو اخستلے په کومو معنيو کښې چې مونږ ورانديې د علامت پېژندګلو وکړه . ولې دغه د ټکيو په استعمال کښې د افسانه نګار موضوعاتي اړخ يو علامتي صورت ضرور لري.

ددې سره سره دې افسانه کښې اجتماعي علامتونه هم شته چې په دې معنيو يې ډېر خلق کاروي. لکه پټکے، پګړۍ، ځادر . دا درې واړه ټکي داسې دي چې معنې يې هم اسانې دي او استعمال يې هم په دې معنيو کښې خلق کوي . دغه اسان والے يې په دې بنياد هم ګڼلے شو چې ټول خلق يې په دې معنيو کښې اخلي لکه پټکے د ملا دپاره خاص دے. پګړۍ د چا قامي، سياسي مشر، ملک دپاره کارولے شي . او ځادر خو د ټولو سړيو دپاره داسې يو علامت دے څه رنګ چې د ښځو دپاره لوپټه استعمالېږي . خو دې افسانه کښې ددې اجتماعي علامتونو ذکر په ښۀ معنيو کښې شوے دے .دغه ښۀ والے کۀ ځۀ هم د افسانې په اخري برخه کښې دے کوم وخت چې ببره نيمه سوي وي . خو بيا هم دا يوه ښۀ رويه ده چې دا ټول خلق افسانه نګار د قامي وحدت په خاطر يو ځائې ودرولي دي.

يعنې دې افسانې ته کۀ فکر وکړو نو مونږ ته پکښې انفرادي او اجتماعي دواړه علامتونه په نظر راځي. او بيا ددې علامتونو د استعمال انداز داسې دے چې مونږ په دې نتيجه رسو چې دا ټول ټکي په خپل خپل ځاے داسې کاروالے شوي څه رنګ چې يو ټکے د خپلې لغوي معنې دپاره جوړ وي کۀ څو يې هم دلته استعمال مجازي دے خو د حقيقي او مجازي معنې ترمينځ يې داسې يوه پخه رشته قائمه ده چې د غېر ګمان پرې ببخې نۀ کېږي. يعنې دا استعمال داسې شوے دے چې نۀ يې د افسانې پلاټ ته ځۀ

نقصان رسولے دے او نۀ یې د قیصې په روانئ کښې خلل پیدا کړے دے ۔ بلکې دد ې ټولو فني اړخونو سره سره یې تجسس هم تر اخره پورې قائم ساتلے دے۔

حقیقیت کښې هم دا د علامت نګارئ فن دے او دا د ډاکټر محب وزیر د اسلوب کمال دے چې نۀ یوائې ځانګړے دے بلکې په فني حواله کره او پوره هم دے۔

## حوالې


1. منظر اعظمی، اردو میں تمثیل نگاری، انجمن ترقي اردو (هند) نئ دلی، ثمر افسِٹ پرینٹر، نئ دلي، 1992ء، صفحہ ۴۵
2. یوسفزے ،مشتاق مجروح ،تاج الغات جامع پښتو ، تاج کمپني لمیټډ ، ۴۹۵
3. فُروزالدین، مولوی، الحاج، (مرتب) فیروزواللغات اردوجدید، فیروزسنز لمیٹڈ پرائیوٹ، لاهور، راولپنڈي-کراچی، صفحہ ۹۵۴
4. هادی حسین، محمد، زبان اور شاعری، مجلس ترقی ادب، کلب روڈ، لاهور، بخاری پرنٹرز، کینال ویو سوسائٹی، لاهور، صفحہ ۶۸
5. کمال، محمد اشرف، ڈاکٹر، چند اصطلاحات، ناصر شهزاد پرنٹرز، لاهور، صفحہ ۷۵
6. انور جمال، پروفیسر، ادبي اصطلاحات، نیلاب پرنٹرز راولپنڈی، اشاعت هفتم، مئ ۲۰۲۱ء، صفحہ ۱۳۰
7. انیس اشفاق، ڈاکٹر، اردو غزل میں علامت نگاری، اترپردیش اردو اکادمی، پہلا اڈیشن، ۱۹۹۵ء، صفحہ ۳۰
8. حفیظ صدیقی ،ابوالاعجاز ،کشاف تنقیدی اصطلاحات ،ادارہ فروغ قومی زبان ،پرنٹنگ کارپوریشن آف پاکستان، اسلام اباد، طبع دوم ، ۲۰۱۸ء ،صفحہ ۱۷۱
9. اشتیاق احمد، جدید علامت نگاری تحقیقی و تنقیدی جائزہ، بیت الحکمت لاهور، صفحہ ۳۵
10. صدیقی، محمد علی، ڈاکٹر، مابعد جدیدیت، پیس پبلی کیشنز، ۲۰۱۴ء، صفحہ ۱۲۱
11. خټک ،فضل میر، پروفیسر، فضلیات ، اعراف پرینټرز محله جنګي پیښور ،دویم اشاعت ، ۲۰۲۰ ء، مخ ۳۶۹
12. عمر فاروق، ڈاکٹر، اصطلاحاتِ نقد وادب، بھارت افسیٹ، دهلی، اشاعت اول، ۲۰۰۴ء، صفحہ ۱۸۹-۱۹۰
13. اشتیاق احمد، جدید علامت نگاری تحقیقی و تنقیدی جائزہ، بیت الحکمت لاهور، صفحہ ۴۷
14. محب وزیر ،ډاکټر، سوځېدلې ببره، پښتانه مترقي لیکوال، امن خپرندویه ټولنه چارسده،
15. هم دغه اثر، مخ: ۱۰
16. هم دغه اثر، مخ:۱۳
17. هم دغه اثر، مخونه:۱۵، ۱۴
18. فیاض الرحمن، د خدائي خدمت ګار تحریک د منتخب شاعرانو په کلام کښې پښتني اقدار، پي ایچ ډي مقاله، ناچاپ، پښتو او د شرقي ژبو څانګه ملاکنډ پوهنتون، ۲۰۲۵ء، مخ :۳
19. مبارک علي، °اک°ر، عهد وسطیٰ کا هیندوستان، هیندوستان کا°° کهاني، نیشنل بک فاؤ:°یشن، اسلام اباد، صفحه:۵۶
20. مبارک علي، °اک°ر، برطانوي هیندوستان، هیندوستان کا°° کهاني، نیشنل بک فاؤ:°یشن، اسلام اباد، صفحه:۱۰
21. محب وزیر ،ډاکټر، سوځېدلې ببره، پښتانه مترقي لیکوال، امن خپرندویه ټولنه

چارسده، مخ: ۱۲

22. هم دغه اثر، مخ: ۱۰

23. خانزېب ، مولانه، شتمنه پښتونخوا ، مفکوره، ایلۍ چاپ چارې جنګي محله ، پېښور ـ شپږم چاپ اګست ۲۰۲۵ء

24. محب وزیر ،ډاکټر، سوځېدلې بېړه، پښتانه مترقي لیکوال، امن خپرندویه ټولنه چارسده، مخ: ۱۱


**References :**

1. Manzar Aazmi, *Urdu Mein Tamsil Nigari*, Anjuman Taraqqi-e-Urdu (Hind), Nai Dilli: Samar Offset Printers, 1992, p. 45.
2. Mushtaq Mujrooh Yousafzai, *Taj-ul-Lughat Jami' Pashto*, Taj Company Limited, p. 495.
3. Maulvi Ferozuddin (Murattib), *Feroz-ul-Lughat Urdu Jadid*, Lahore/Rawalpindi/Karachi: Ferozsons (Private) Limited, p. 954.
4. Muhammad Hadi Husain, *Zaban aur Sha'iri*, Lahore: Majlis Taraqqi-e-Adab; Bukhari Printers, p. 68.
5. Dr. Muhammad Ashraf Kamal, *Chand Istilahat*, Lahore: Nasir Shehzad Printers, p. 75.
6. Prof. Anwar Jamal, *Adabi Istilahat*, Rawalpindi: Neelab Printers, 7th ed., May 2021, p. 130.
7. Dr. Anees Ashfaq, *Urdu Ghazal Mein Alamat Nigari*, Uttar Pradesh Urdu Academy, 1st ed., 1995, p. 30.
8. Abul Aijaz Hafeez Siddiqi, *Kashshaf Tanqidi Istilahat*, Islamabad: Idara Farogh-e-Qaumi Zaban; Printing Corporation of Pakistan, 2nd ed., 2018, p. 171.
9. Ishtiaq Ahmad, *Jadid Alamat Nigari: Tahqiqi wa Tanqidi Jaiza*, Lahore: Bait-ul-Hikmat, p. 35.
10. Dr. Muhammad Ali Siddiqi, *Mabad Jadidiyat*, Peace Publications, 2014, p. 121.
11. Prof. Fazal Mir Khattak, *Fazliyat*, Peshawar: Araf Printers, 2nd ed., 2020, p. 369.
12. Dr. Umar Farooq, *Istilahat-e-Naqd-o-Adab*, Delhi: Bharat Offset, 1st ed., 2004, pp. 189–190.
13. Ishtiaq Ahmad, *Jadid Alamat Nigari: Tahqiqi wa Tanqidi Jaiza*, Lahore: Bait-ul-Hikmat, p. 47.
14. Dr. Mohib Wazir, *Swazedley Bera*, Charsadda: Pakhtana Mutaraqqi Likwal; Aman Khparandoya Tolana.
15. Hum dagha asar., p. 10.
16. Hum dagha asar.p. 13.
17. Hum dagha asar.pp. 14–15.
18. Fayaz ur Rahman ،Da Khudai Khidmatgar Tehreek Da Muntakhab Shaairano Pa Kalam K Pakhtani Aqdar ،PhD Maqala ،Nachaap ،Pashto Ao Da Sharqi Zhabo Sanga, University of Malakand ،2025 ،Makh: 3
19. Dr. Mubarak Ali ،Ahad-e-Wusta Ka Hindustan ،Hindustan Kshe Kahani ، National Book Foundation ،Islamabad ،Safha: 56

20. Dr. Mubarak Ali ،Bartanvi Hindustan ،Hindustan Kshe Kahani ،National Book Foundation ،Islamabad ،Safha: 10
21. Dr. Mohib Wazir ،Sozwedalay Bera ،Pakhtana Taraqqi Pasand Leekwal ،Aman Khparandoya Tolana ،Charsadda ،Makh: 12
22. Hum dagha asar., p. 10.
23. Maulana Khanzeb ،Shtamana Pakhtunkhwa ،Mafkoora ،Elai Chhap Chare ،Jangi Mohalla ،Peshawar ،Shpagham Chhap August 2025
24. Dr. Mohib Wazir ،Sozwedalay Bera ،Pakhtana Taraqqi Pasand Leekwal ،Aman Khparandoya Tolana ،Charsadda ،Makh: 11